مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۲/۰۱/۳۰

# د وياړې د روازه

## د ماشومانو له پاره لنډه کيسه

يو وخت يوې مبر منې دوه اولادونه در لودل، يو يې زوی و او دا بله يې لور. يوه ورځ دا میرمن په سفر روانه شوه او اولادونوته يې و ويل چې:« بچيانو! زه په سفر ځم او تاسې د لته يوازې پاتې کيږئ، نوځکه به دوياړې د روازې ته ډير پام کوئ.»مقصد يې داو چې دکوچنيانوبايد دې ته پام وي چې، غله دوياړ دروازې له لارې کورته ور نه شي. څه موده چې دا په کور کې نه وه، د کوچنيانو زړونه تنګ شول او ورور يې خور ته و ويل چې:« راځه چې دواړه يوځه د باندې ځنګل ته لاړشو، د وياړې دروازه به له ځان سره يوسو، بيانو څه نه پيښيږي!» دا خوشاله شوه او دواړه دباندې ځنګل ته و وتل، په ځنګل کې يې لوبې کولې، هرې خواته منډې وهلې، په دې کې لار تري ورکه شوه، شپه په راغله او پوه شول چې کور ته نه شي تللی. له ډاره يوې ونې ته وختل، تر څو چې داړونکي ژوي يې ونه خوري.د واړه يو څه وخت هلته په ونه کې ناست ووچې غله د پنډ و پنډ و پيسوسره راغلل، دهمدې ونې لاندې کيناستل او پيسې يې شميرلې. په دې وخت کې کوچنيانو ځانونه ډير ارام اوغلي ونيول، ترڅو غله پوه نه شي چې دوی د لته په ونه کې دي. لږڅه وروسته ورور خور ته و ويل چې:« متيازې راغلې دي او نه شم يې تنګولی.» خور ورته و ويل:« نو ويې کړه!» ده خوشې کړې، خو غلو په کراری خپلې پيسې شميرلې او ويل يې چې:« دا د باران ځاځکې دي چې وريږي.» لږ څه وروسته ورور خور ته بيا و ويل چې:« نور ځان نه شم تم کولی، بايد غټ څه وکړم:» خور ورته و ويل چې:« ويې کړه!» ده وکړل، غلو بيا هم د پيسو شمبرلو ته دوام ورکړ او ويې ويل چې :« داد هغه الوتونکو چټلي ده چې پاس په ونه کې ناست دي.» اوس نو دواړه د ډير وخت له پاره په ونه کې ارام ناست وو، خو ورور يې بيا و ويل چې:« زه د وياړې دروازه نوره په لاس کې نه شم ټينګولی.» خور ورته و ويل چې ويې چوه.» ده دروازه واچوله او دروازه دغلو په منځ کې ولويد له. غلوپه بيره منډې اوچيغې کړې چې:« د اسمان نه تند ر راولويد، داسمان نه تند ر را ولويد.» دوی وتښتيد ل او هرڅه يې په ځای پريښودل. اوس نو سهار رانږدې شوی و، خور او ورور دواړه له ونې راکوز شول او د وياړې دروازه او ټولې دغلو نه پاتې شوې پيسې يې د ځان سره را واخيستې ، خوښ او نيکمرغه کور ته راغلل. مور يې مخې ته ور ودانګل او دواړه يې وښکل چې په دروازې يې پام نه و کړی. که چيرې غله راغلي وای، نو هرڅه به يې غلا کړي وای. کوچنيانو مور ته ټول هغه څه بيان کړل چې په ځنګل کې يې ليدلي او په تير شوي وو. بيا هغه هم خوشاله شوه. په پيسو يې ښکلې جامې او نور سامان را ونيول او لا دومره پاتې هم شوې چې د ټول ژوند له پاره يې بس کيدې.

دالماني سرچينو څخه:

Märchen aus Deutschland, Mutabor Verlag, Kindermärchen aus aller Welt, Bild: Cristina Roters


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ